د ټرون ورکولو د پرېکړې خبرتیا

د تدارکاتو قانون د دري څلوېښتمې مادې له دويمې فقرې سره سم، ټولو ته خبر ورکول کېږي  چې د افغانستان بانک د ختيځ زون د نمايندگيو لپاره د امنيتي برجونو جوړول، يو کوټه، سپټيک څاه، تشناب، د ځمکې چاپېره ديوال د سلايډينګ دروازې سره، د کنکس چمتو کول او نصب، او د سيم خاردار جوړولو پروژی د (DAB/1404/NCB/W03) تشخيصيه شمېرې لرونکي ټرون پر بنسټ د شهاب بريا ودانيزو  او سرک جوړونی شرکت ته ورکړي چې دا شرکت د (94700) شمېرې جواز لرونکی او اصلي موقعيت يې د پل خشتي موبايل سنټر، د کابل مرکز، افغانستان کې دی. د ټرون ټوليزه بيه (3,374,383) درې ميليونو درې سوه څلور اويا زره درې سوه او درې اتيا افغانۍ ده.

د حقيقي او حکمي اشخاصو د هر ډول نيوکو په صورت کې دوی کولای شي چې د تدارکاتو قانون د پنځوسمې مادې سره سم خپله نيوکه په ليکلې بڼه د لاملونو په يادولو سره د اعلان د خپرېدو له نېټې تر اوو رسمي ورځو د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمريت ته چې په ابن سينا واټ کې موقعيت لري، وسپاري.

دا خبرتيا د ټرون د لاسليکولو په مانا نه ده او د پورته ذکر شوې مودې او د راتلونکو قانوني پړاوونو تر بشپړېدو به ټرون نه ترسره کېږي.